ΕΛΛΗΝΙΚΗ ΔΗΜΟΚΡΑΤΙΑ
Υπουργείο Μετανάστευσης & Ασύλου

## څرنګه کولای شئ د خپل اوسیدو جواز (اقامه) نوې کړئ (د ADET ډول)؟

د اوسیدلو جواز (اقامه)  نوی کولو لپاره، تاسو باید د نړیوالې محافظت ګټه اخیستونکو لپاره د خپلواکه پناه غوښتنې مرکز ته خپل غوښتنلیک وسپارئ، لږترلږه دېرش (30) کیلنڈر/جنتری ورځې ستاسو د اوسیدو لومړني جواز (اقامه) د ختمیدو نیټې څخه دمخه.

په هغه حالت کې چې تاسو سیاسی مهاجر نه یاست او یا د فرعي محافظت (اجتماعی مهاجرت) ګټه اخیستونکي هم نه یاست، ستاسو د اوسیدو جواز (اقامة) نوی کیدی نشي.

### د هستوګنې جوازونو نوي کولو پروسه کې څلور مرحلې شاملې دي:

1. د بریښنالیک له لارې د اوسیدو جواز (اقامه) نوي کولو لپاره د ګټه اخیستونکو پناه غوښتنې مرکز څخه غوښتنه وکړئ.
2. د بریښنالیک له لارې ګټه اخیستونکو پناه غوښتنې مرکز څخه ځواب ترلاسه کړئ.
3. کوم اضافي اړین سندونه د پاسپورټ دفتر ته وسپارئ (یا د بهرنیانو  خانګه "بیورو").
4. خپل د اوسیدو نوې شوې جواز (اقامة) له اړونده سیمه ایز دفتر یا خپلواکه پناه غوښتنې مرکز څخه ترلاسه کړئ.

ΕΛΛΗΝΙΚΗ ΔΗΜΟΚΡΑΤΙΑ
Υπουργείο Μετανάστευσης & Ασύλου

## 1 د برېښنالیک له لارې د اوسیدو جواز (اقامه) نوي کولو لپاره د ګټه اخیستونکو پناه غوښتنې مرکز څخه غوښتنه وکړئ.

- ✓ تاسو باید خپل غوښتنلیک د نړیوال محافظت ګټه اخیستونکو لپاره د خپلواکه پناه غوښتنې مرکز ته د لاندې برېښنالیک ادرس له لارې وسپارئ:

.gov.gr

- ✓ تاسو کولای شئ د الکترونیکي غوښتنلیک فورمه **دلته** ومومئ. په یوناني او انګلیسي ژبو نسخې شتون لري.
- ✓ تاسو باید ډیجیټل عکسونه هم ضمیمه کړئ، کوم چې د یوناني پاسپورټ لپاره مناسب وی (د اعظمي حد 2 MB اندازې سره).
- ✓ تاسو باید د خپلې کورنۍ هر غړي لپاره جلا برېښنالیک واستوئ، چې د جلا غوښتنلیک فورمه او جلا عکس باندې مشتمل وي.
- ✓ د برېښنالیک "موضوع" کرښه باید "نوي کول (Renewals)" وي؛ تاسو باید د اوسیدو جواز (اقامه) شمېره په "موضوع" لاین کې هم شامل کړئ. (د بېلګې په توګه "Renewals_P123456789 ).

**!**

تاسو کولی شئ پدې اړه تفصیلي لارښوونې **دلته** ومومئ چې څنګه تاسو د نوي کولو غوښتنلیک ولیږئ دا لارښوونې په انګلیسي، عربي، فارسي، فرانسوي او تیګرینیا کې ژبو کې شتون لري.

## 2 د بریښنالیک له لارې ګټه اخیستونکو پناه غوښتنې مرکز څخه ځواب ترلاسه کړئ.

- تاسو باید خپل غوښتنلیک کې خپل سم شخصي بریښنالیک پته شامل کړئ، ځکه چې د راتلونکو مرحلو په اړه لارښوونې چې تاسو یې باید ترلاسه کړئ تاسو ته د بریښنالیک له لارې لېږل کېږي.
- د پناه غوښتنې ځواب تاسو ته د بریښنالیک له لارې لیږل کیږي. ځواب به په هغه ژبه لیکل کېږي چې تاسو پرې پوهېږئ.
- پدې ځواب کې به د دې حقیقت په اړه یو لنډ معلومات شامل شي چې ستاسو د استوګنې جواز نوي کولو لپاره مثبت پریکړه صادره شوې، او همدا رنګه د نورو مرحلو په اړه لارښوونې.
- دا ځواب به تاسو د پولیسو پاسپورټ دفتر (یا د بهرنیانو څانګه "بیورو") ته هم راجع کړي چه ترسو نور کوم سندونه وسپارئ.
- په ځانګړې توګه، ځواب به دقیقا مشخص کړي چې د پاسپورټ کوم دفتر (یا د بهرنیانو څانګه "بیورو") ته باید لاړشئ، او کوم ډول سندونه باید تاسو ځان سره راوئ.

## 3 کوم اضافي اړین سندونه د پاسپورټ دفتر ته وسپارئ (یا د بهرنیانو اداره).

- کله چې تاسو د پاسپورټ دفتر ته ځئ، تاسو باید لاندې سندونه له ځان سره ولرئ:
  - د برېښنالیک چاپ شوی متن
  - د لارښوونې فایل چې د برېښنالیک سره ضمیمه و
  - د اوسني/موجوده اوسېدلو جواز (اقامه) چې تاسو یې لرئ یا د پولیسو لخوا ستاسو د اوسیدو جواز (اقامه) چه د غلا یا ورکېدو په صورت کې خپره شوې اعلامیې فورمه
  - دوه (2) وروستي/تازه د پاسپورټ عکسونه، کوم د یوناني پاسپورټ لپاره مناسب دي

**!** تاسو به د پاسپورټ دفتر څخه د رسید سند ثبوت ترلاسه کړئ، د سپارل شوی سندونو په اړه. تاسو باید دا سند له لاسه ورنه کړئ، ځکه چې تاسو د استوګنې نوي جواز (اقامه) ترلاسه کولو لپاره ورته اړتیا لرئ.

## 4 خپل د اوسیدو نوي شوې جواز (اقامه) له اړونده سیمه ایز دفتر یا خپلواکه پناه غوښتنې مرکز څخه ترلاسه کړئ.

- ✓ هغه ځواب چې تاسو د بریښنالیک له لارې د پناه غوښتنې مرکز څخه ترلاسه کړی دا به هم مشخص کړي چې کوم سیمه ایز پناه غوښتنې دفتر (یا خودمختار د پناه غوښتنې واحد) ته باید لاړشئ، ترڅو د استوګنې نوي شوی جواز (اقامه) ترلاسه کړئ (ستاسو د اوسیدو ځای پورې اړه لري).
- ✓ د دې لپاره چې تاسو وګورئ چې آیا ستاسو جواز نوی شوی دی او له همدې امله تاسو دا ترلاسه کولای شئ، تاسو باید د پناه غوښتنې خدمت لخوا **د هستوګنې نوي شوي جوازونو (اقامو)** په اړه هرې اعلامیې دلته ګورئ. تاسو کولای شئ چیک کړئ چې آیا ستاسو د اوسیدو جواز (اقامه) بیتابیو د اوسیدلو لومړني جواز (اقامه) شمیرې په اساس د لېږون په واسطه نوي شوي که نه؟
- ✓ هغه اعلان چې ستاسو د اوسیدو لومړني جواز (اقامه) شمیره لري تاسو ته به وخت او ځاي وټاکي چې تاسو باید د اوسیدو د نوي جواز (اقامه) ترلاسه کولو لپاره هلته حاضر شئ.
- ✓ تاسو باید په ټاکلي نیټه او وخت باندې حاضر شئ، لکه څنګه چې په اعلان کې ذکر شوي، چه تر څو د استوګنې نوي شوی جواز (اقامه) ترلاسه کړئ.
- ✓ تاسو باید پخپله راشئ. تاسو نشئ کولای چې د ترلاسه کولو لپاره بل څوک راولیږئ.
- ✓ همدارنګه، تاسو باید ماسیک اغوستې وی کله چې دفتر ته راځې د اقامة ترلاسه کولو لپاره.

**د نوي شوی هستوګنې جواز (اقامه) ترلاسه کولو لپاره، تاسو اړتیا لرئ لاندې سندونه له ځانه سره راوړئ.**

- ☑ ستاسو زوړ اوسیدو جواز (اقامه)، کوم چې تاسو باید د پناه خدمت ته وسپارئ.

- ☑ په هغه حالت کې چې ستاسو پخوانی جواز غلا شوی یا بې ځای/ورک شوی وي، تاسو باید د پولیسو لخوا اړونده خپره شوی اعلامیه راوړئ.
- ☑ د پاسپورټ دفتر لخوا تاسو ته درکړل شوي نوټ (بارکوډ) د ثبوت په طور د سند ترلاسه کولو لپاره.